مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۵/۲۰

# مذهبي سياسي او نورې ستونزې

## اتم څپرکی، پاکستان ماتي، اړيکې، جرمونه او غلطۍ

مذهبي او سياسي او نوري ستونزی ،د مشرف له وخته  ورځ تر بلي مخ پر زياتيدو دي ، تر ټولو لويه ستونزه ،هغه د غير مسلمان لږکيو پرورلندی د زغم کميدل دي ،د پاکستان د پيدايښت او جوړيدو ، په وړاندی يوه لويه د خنډ او خرابيدو نښه ګڼل کيدای شي ، کله چي جناح دا هيواد رامينځ ته کاوه ،د پاکستان په بيرغ کي سپين رنګ د لږکيو د آستازيتوب ، په مانا وه ،له کومو څخه چي به اکثريت مسلمانه برخه ساتنه کوي ، او هغوی ته به يوه ستړګه ګوري.

اوس عيسويان کوم چي ،وس لري ،له هيواده څخه په وتو،مجبوره شوي دي ،احمديان کوم چي ډيره وړه برخه لږکي مسلمان دي ، د ملايانو او حکومت د تهديد او ګواښ سره مخ دي ، اسماعيليان د شيعه ګانو ډله ، چي آغاخان يي مشری کوي ، ګوري چي د دوی سوداګر او پوه کسان هره ورځ د افراطيانو په وسيله په نښه کيږي ،دا ډلي په ځانګړې توګه شيعه ګان او يو څه کم هندوان هره ورځ په دي هڅه دي ، چي د هيواده بهر لاړ شي ، په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کي سني افراطيانو له پنځه سوه زيات شيعه ګان وژلي دي ، ډيری يي د افغانستان هزاره ګان دي ، کوم چي په سوله کي ، په بلوچستان کي اوسيدل ، افراطيان غواړي پاکستان د يو اسلامی جهادی هيواد په نامه له سره بيرته تعريف کړي ، د دي کار له پاره دوی بايد داسي يو چاپيريال رامينځ ته کړي ، چي د غير اسلامی ډلو لپاره په کي هيڅ زغم موجود نه وي ،اياز امير ليکي (زمونږ د ملت جوړونی د سفر په اوږدو کي ، د منطق د استعمال په ځای مو د مذهب په نظر کي نيولو ته ترجيح ورکړی ده ، نن چي پاکستان په کوم حالت کي دی ،د جنګ کرکي او نفاق د يو کلا په خير دي ، نه د اسلام د کلا په خير، د همدې دوامداره تشدد پايله ده )تر ټولو حساسه او حاده موضوع هغه د مذهب د توهين قانون دی ، چي د خلکو د ګوند ډيری غړي غواړي ،چي هغه بدل کړي ، نوموړی قانون د دويشتمی فقری لاندی راځي ،دقانون له مخي تورن کس د پوليسو له لوری ، سمدلاسه نيول کيدای شي ، نوموړی قانون دي ته لاره هواروي ،چي هر څوک کولای شي ، په چا د مذهب د توهين تور ولګوي ، د نوموړي تور ثبوت او نوم کله هم څوک نه شي اخيستلای ، ځکه چي هغه بيا خپله د مذهب توهين بلل کيږي ،له زرو زيات کسان په دي تور په بنديخانو کي بنديان دي.

ځيني يي عيسويان دي ،خو ډيری يي مسلمانان دي ، تر ټولو لوړ غږ چي د نوموړی قانون د سمونی له پاره پورته شو ،هغه د سلمان تأثير غږ وو ، سپين ګويه والی ، چي د لوی ولايت پنجاب والي وو ، ده په ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۴ هغه په اسلام آباد کي ويشتل شو ، د هغه خپل ساتونکی ، ملک ممتاز قادری ، هغه چي د پنجاب د پوليسو غړی هم وو ، ۲۷ ځله يي هغه په شاه ، او سر کي په مرميو ويشت ،نورو ساتونکو د قادری له وژلو ډده وکړه ،هغه ځان تسليم کړ ، او اعلان وکړ چي هغه ډير يو مقدس کار تر سره کړ ، وژونکي يا قاتل د ډيرو خلکو ملاتړ تر لاسه کړ ،چي په مليونو پاکستانيان يي حيران کړل ، او دا د هيواد د پاره د يو نوی پيل په معنی وه ، کله چي قاتل بنديخانی ته واچول شو ، د هغه ستاينه وشوه ، او مننه تري وشوه ، پنځه سوه وکيلانو ، د هغه څه په دفاع خپلي عريضي محکمی ته وړاندی کړي ، هيڅ مولوي په لاهور کي ،د تأثير د جنازې تر سره کولو لپاره تيار نه وو ،د هيواد مشران د تلثير جنازی ته د ورتګه ويريدل.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

د لمړي ځل له پاره ،د پاکستان خاموشه اکثریت ،کوم چې کله هم ،د افراطیت ملاتړي نه وو ، کله یې هم د طالبانو ملاتړ نه وو کړی ،او کله یې هم مذهبی کاندیدانو ته رایه نه وه ورکړې ،داسي ښکاریدل ،چې یا یې خپل دریځ بدل کړی ،او یا داچې له ویرې د نوموړي عمل په خلاف نه شي دریدلی ،

د دې پرځای چې حکومت خپل دریځ خپل کړي ،له خپل پخواني دریځ څخه د افراطیانو له ویرې په شا وګرځید ،او د مذهب د توهین د قانون د بیا څیړلو ، چې دوی یې په پیل کې ژمنه کړې وه ،چې تر سره به شي ،شا په شا شول ،او هغه یې په خپل ځای پریښود ،

پاکستان د ګړنګ پرغاړه له کتابه څخه

۲۳۸ پاڼه

ژباړن: ډاکټر ځلاند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ